**لیکونکی** : جان کوایلی «Jon Qually»
**منبع اودخپریدو نیټه** :کمان دریم «22-05-2024»
**ژباړونکی** :پو هندوی دوکتور سیدحسام«مل».

---



***داهغه مهال دی کله چي انتونی بلینکین در متحده ایالاتو ددولت دباندنیو چارو وزیر د سنا د خارجی روابطود بودجی د تخصیص ورکولو په کمیټه کی د (2025) ما لی کال دپاره دخیل مربوطه وزارت دلګښتونو لپاره تخصیص غواړی نودهغه دراپور په ورکولو سره یوشمیر مظاهره کونکي د خپل لاسونو دورغیو په ويني سره ککړ د کودنپنک[دا یو وګړنی فیمینیستی سازمان دی] سره په همغږی خپل لاسونه پورته کړل (واشنګتن دی سی 2024-05-21)***

# نسل وژنه ستا سو میراث دی ! ": بلینکن د سنا په استماعیه غونډه کي د لاریونونو یا تظاهرکونکو لخوا په نښه شو یا ترپاملرنی لاندی راغي

# 'Genocide Is Your Legacy!': Blinken Targeted by Protests at Senate Hearing

***" تا سودغزي د قصاب به په نوم یادیږی "! داهغه غږ وه کوم چي یو لاریون کوونکی چې بیا وروسته ونیول شو، د امریکا د بهرنیو چارو وزیر ته یې په***

## ***خطاب کي چيغې وهلې . نورو تظاهرکونکو بيا د هيواد لوړ پوړی ډيپلومات ته د "جنګي جنايتکار" په ويلو سره ودريدل.***

***"You will be remembered as the butcher oF Gaza! " one demonstrator, later arrested, screamed at the U.S. secretary of state. Others stood up to call the nation's top diplomat a "war criminal."***

*د متحده ایالاتو دبهرنیوچارو وزیر **انتوني بلينکن** د سه شنبې په ورځ د سنا د اوريدنې يا داستماعيه غونډې په جريان کې په مکرر ډول سره د لاريونونو ترنيوکی او غند نې سره مخا مخ شو اودا ځکه چې د تظاهراتو په جريان کې د شاهدانو په قول سره يو شمير لار يونکونکو چې په ارامه اوبی له کوم تاوتريخوالی خپل تظاهر ته دوام ورکول په پا يله کې دپوليس پواسطه سره ونيول شول.*

*د فلسطين لپاره د CodePink او امريکا يې مسلما نا نو لخوا تنظيم شوی لاريون سره د مشرانو جرګې د بهرنيو اړيکو او تخصيصا تو د کميټې د اوريد نې په غونډه کې يوشمير تظاهرکونکو په ګډه سره په غزه کې د بلينکن پا ليسي وغند له ، چيرې چې متحده ایالاتو په تيرو اوو ميا شتو کې د« 35,000 » څخه د زياتو خلکو د وژل کيدو سره سره د اسراييلو د نظامې برید ملاتړ ته دوام ورکړی او لاتراوسه يې دوام ورکوي . حال داچې زيات ملکي نارينه، ښځې او ماشومان دي کوم چې د تير کال د اکتوبر د او ومې نيټې د حماس په مشرۍ له برید سره يې هيڅ تړاو نه درلود .*

*په هغو قربانيانو کې چې د سه شنبې په ورځ يې نوم واخيستل شو، د **هند رجب** په نامه يوه شپږ کلنه فلسطينۍ نجلۍ وه چې د جنوري په ميا شت کې په غزه کې د اسراييلو د دفاعي ځواکونو لخوا هغه مهال ووژل شوه کله چې هغه د خپلې کورنۍ سره په موټر کې د تيا نک په ډزو ووژل شوه. په داسې حال کې چې **رجب** په لومړۍ چاودنه کې ژوندی پاتې شوه، خو وروسته په موټرکې هغه مها ل مړه شوه کله چې داسراييلو ځواکونودهغې يعنې د**رجب** د ژغورلوپرخلکو باندې ډزې وکړې.اوهغه داچې دهغې د کورنۍ غړو د ساعتونو لپاره محا صره کی پاتې شو او د تليفون له لارې يې د **رجب** دژغورلو لپاره د مرستې غوښتنه کوله، اما هغه ژوندی پاتې نه شو.*

*"**هند رجب** شپږ کلنه وه چې اسراييلي عسکرو هغه ووژله!" د کميټې مخې ته په بلنکن کښې ناست د فلسطين لپاره د امريکې مسلمانانو سره د **محمد حبيح** غږ وکړ. " تا سو به د غزې د قصاب په نوم يادېږی!*

*"تاسو به د بې ګناه فلسطينيانو د وژلو په خاطر په ياد ولرئ!" **حبيح** په داسې حال کې خپل خبرو ته ادامه ورکړه چې هغه د امنيت له خوا له خونې څخه بهر او دالان ته ورغلی و.اوپه تکرار سره پر بلنکين باندی غږ کول چې "**نسل وژنه ستا سو ميراث دی!** نسل وژنه ستا سو ميراث دی!"*

✊ مظاهره چیانو نن سهار د سنا د بهرنیو اړیکو د کمیټې په غونډه کې د امریکا د ډیپلوماسۍ په اړه د @SecBlinken خبرې ګډوډې کړې او هغه ته یې په غزه کې د شپږ کلن فلسطینی #HindRajab په وژنه کې د هغه د رول یا دونه وکړه. 🎥 هیل او معتز سلیم ✌ pic.twitter.com/BtxezbNiEb —

د فلسطین لپاره امریکایی مسلمانان (@AMPalestine) د می 21، 2024

په داسې حال کې چې ځینو چیغې وهلې نو دغو ددی لپاره چې په غونډه کې اختلال را مینځته کړ له غونډې څخه وویستل شو،اما یوه لویه ډله د اوریدلو یا داستماعیه خونې شاته په خاموشۍ سره نا ست یا ولاړ و کوم چې خپل لاسونه یې مخا مخ بلینکن ته په سور، رنګ سره ککړ کړشوي پورته کول اوخپل کرکه یې ښودل .



فلسطینی پلوه مظاهره چیانوپه خپلولاسونوسره په وینورنګ کړی په غزه کې د اوربند غوښتنه کوي په داسې حا ل کې چې د متحده ایالاتو د بهرنیو چا رو وزیر **انتوني بلینکن** د سنا کمیټې ته د شهادت ورکولو لپاره چمتووالی نیسي. (عکس د مصطفی با سم / انادولو لخوا د ګیټ امیجز له لارې)

**اولیویا دینو** چې، د **کوډ پنک** فعاله کله چې ونیول شوه او د **حبیح** په څیر، وروسته د نیولوپه وړاندې دمقاومت کولو تورولګول شو، هم یې اوریدل یا دبلنکین وینا په نوموړي غونډه کې ګډوډ کړل ځکه چې هغې بلینکن یو "جنګي مجرم" بللی وو چې د "40,000 فلسطینیانو وینه یې په لاسونو" وه.

اوس: @SecBlinken د سنا د بهرنیو اړیکو کمیټې ته د هغه د شهادت په جریان کې ګډوډي ته دوام ورکوي.

"بلینکن یو جنګي مجرم دی! هغه یو جنګي مجرم دی! د څلویښت زره فلسطینیانو وینه یې په سمبولیک ښه په لاسونو کې وښودل ! " pic.twitter.com/bmx0CTfkrJ
— کوډپینک (@codepink) د مې 21، 2024

په یوه بیا ن کې، DiNucci څرګنده کړه چې څنګه د متحده ایالاتو حکومت "اسرائیل ته ملیاردونه ډالرورکړي، مګرآیا زموږ هیوادپه بیړني ډول د روغتیا پا ملرنې، کورجوړولو، اود اقلیم بدلون ته درسیدو لپاره دې پیسو ته اړتیا نه لري." بلینکن، ولسمشر جو بایډن، او نورو ټاکل شویو مشرانو، هغې وویل "باید په دې ویجاړی کې زموږ ښکیلتیا پای ته ورسوي او په کور کې د عادلانه او عادلانه ټولنې په جوړولو تمرکز وکړي."

د خپلې شاهدۍ په ترڅ کې، بلینکن وویل چې هغه د دې اونۍ د نړیوالې جنایي محکمې د لوی څارنوال **کریم خان** له پریکړې سره موافق نه دی ، چې د دوشنبې په ورځ یې د "جنګي جرمونو" اود اسراییلو د لومړي وزیر **بنیامین نتنیاهو** اوداسرایل ددفاع وزیر **یوف ګالنت** دنیولو لپاره غوښتنلیک وړاندې کړ.او هغوی یې په غزه کې "دبشریت پرضد مجرم وګڼل.




پولیس د مې په 21، 2024 کې د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلینکن د دسناد استماعیه غونډې ته دراپور ورکولو په جریان کې د کوټې یا دهغه جلسې څخه بهر یوه لیکه یا قطار نیولی وو یا جوړکړی وو چې بلینکن د مظاهره کونکي څخه په امن کې وسا تي اودا ځکه چې مظاهرکونکي په یو شعاری فیته کې "د جنګي جرمونو په تور د بلینکن نیول کیدل " لیکل شوي وواودغه شعا رد یوفلسطینی پلوه لاریون کونکي په لاس لوړ نیول شوی ښکاریده . (عکس د مصطفی باسم/انادولو لخوا د ګیټي امیجز له لارې)

بلنکن د خپلو شهادتونو یا دراپور ورکولو دجریان په ترڅ کې د مظاهرچیانود نیولو د حکمونو د ترلاسه کولو اقدام یې"په بشپړ ډول ناسم " وباله او ویې ویل چې دا به یوازې

*د اکتوبر په اوومه دحماس دپوځیانو له خوا دیرغمل شویو اسرائیلي برمته کوونکو د خوشې کولو هڅې له خنډ سره مخامخ کړي او پر غزې د برید د پای ته رسولو لپاره خبرې اترې کمزورې کړي. بلینکن قانون جوړونکو ته هم اشاره وکړه چې د ICC په وړاندې د یو ډول بندیزونو تنظیمولو کې مرسته وکړي.*

*"موږ غواړو له تاسو سره په دوه اړخیزه توګه کار وکړو ترڅو یو مناسب ځواب ومومئ،" بلینکن وویل کله چې د ICC پروړاندې د مجا زاتو احتما لي احتمال په اړه وپوښتل شو. "زه دا کار کولو ته ژمن یم."*

**------------------------ په درناوی «24-05-2024»**

---